DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال چهارم شماره ۱۷۸
شماره مسلسل ۵۳۷
چهارشنبه ۱۴ اسد ۱۳۸۳ هش
۱۶ جمادی الثانی ۱۴۲۵ هـ ق
4 August , 2004

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

فتوای شورای علمای افغانستان

شورای علمای افغانستان دیروز با صدور فتوای خواستار متوقف ساختن تولید وقاچاق مواد مخدر درین کشور شد شورای علما از مردم ودولت افغانستان خواسته است تا از تمام راه هایی که مشروع خوانده شده برای جلو گیری از کشت وقاچاق مواد مخدر استفاده کنند.

قیام الدین کشاف منشی شورای علمای افغانستان متن کامل فتوای این شورا را در اختیار خبرنگاران رسانه های گروهی قرار داد و از افزایش بی سابقه کشت خشخاش پس از سقوط حاکمیت طالبان انتقاد کرد. در فتوای شورای علما استفاده از مواد مخدر ومشروبات الکولی مایه فساد و فحشا خوانده شده است.

منشی شورای علما همچنین تنبیهاً از وابستگی قاچاقچیان بزرگ وبرخی از مراجع قدرت انتقاد کرد. او گفت من که رئیس محکمه مبارزه با مواد مخدر هستم تاکنون به دوسیه یی از قاچاقچیان عمده مواد مخدر برخورد نکرده ام من مطمئن هستم که افراد زیاد دست به این کار می زنند اما دوسیه کسانی به ما ارجاع می شود که اکثراً افراد مظلوم وبی پشتبانه هستند.

حامد کرزی رئیس دولت انتقالی ازین اقدام شورای علمای افغانستان استقبال کرده است.

څلورماشوم تښتونکي محاکمه شول

په کابل کي د کورنۍ او بهرني امنیت محکمي څلور تنه د ماشوم تښتونې په تور پرون محاکمه کړل.

دا محکمه چې د ملي امنیت په یوه ریاست کې جوړه شوې وه دري تنه تورن کسان پکې د لازمو شواهدو د نشتوالي له امله بې ګناه وبلل شول پداسي حال کې چې د نظام الدین په نوم یو تورن کس پکې په لس کلونو بند محکوم شو د محکمې د پریکړې له مخې نوموړی د ماشوم تښتونې رښتینې هڅه کړې وه.

پرته تورنو کسانو کې دوه تنه یې بنځې وې چې دواړه بیګناه وبلل شوې. د یادونې وړ ده چې پدې وروستیو کې امنیتي خواکونو ددې هیواد په بېلا بېلو سیمو کې ګڼ کسان د ماشوم تښتونې په تور نیولي دي.

د ملي بودجې په سرچینو روان بحثونه

د ملي بودجې په اړه په کابل کې یوه دوه ورځنی غونډه پرون پرانستل شوه. د منځ مهالې او بیا انتقالي دولت له تېنګښت سره مرکزي دولت دا شکایت لري چې د ګمرکونو عواید په خپلو ولایتونو کې جنګسالاران خپلو جیبونو ته اچوي او مرکزي اداره یې نه سپاري. ۴مخ

د اخلاقي انحرافاتو په وړاندې کره پریکړه

پولیسو په جلال آباد کې د ویډیوئي فلمونو یو شمیر دکانونه پدې پلمه چې د افغان اخلاقو مخالف فلمونه پکې ښودل کیږي ترلې دي. د ننګرهار ولایت د امنیي چارواکي وایي چې قوماندانۍ چارواکي پدې اړه لازېښونه ورته د کورنیو چارو وزارت له خوا وروسته تر هغې ورسیده. چې وګرو د نا اخلاقي ویډیویي فلمونو د ډیروالي شکایت وکړ. ۴مخ

فیر یک راکت

یک راکت در نزدیکی یکی از منازل رهایشی شهرک خارندوی در کابل شب سه شنبه برخورد کرد. درین حادثه یک تن زخمی شده است. لطف الله مشعل سخنگوی وزارت داخله افغانستان گفت که این راکت از مخروبه یی در منطقه شاه شهید شهر کابل فیر شده است آقای مشعل افزود. که تحقیقات درین مورد جریان دارد.

درهفته های گذشته نیز چندین راکت به شهر کابل اصابت کرد اما تاکنون کسی به ظن دست داشتن درین حوادث بازداشت نشده است.

حمله بر خانه رئیس DDR

خانه رئیس برنامه جمع آوری سلاح یا DDR از جنوب غرب در شهر کابل مورد حمله افراد مسلح ناشناس قرار گرفته. جنرال طاهر می گوید: تعداد افراد مسلح که ملبس به یونیفورم نظامی بودند به خانه مسکونی وی در شهر نو کابل هجوم بردند. این مسوول برنامه DDR افزود بعد از مداخله نیروهای امنیتی مهاجمین موفق به فرار شدند. ص۴

چهل الی پنجاه نفر طالب در جنگهای خوست کشته شدند

قوای نظامی امریکا در افغانستان دیروز گفت حدود چهل تا پنجاه افراد مظنون طالب در جنگ های شدید در ولایت خوست کشته شده اند. وی افزود: این رقم تلفات براساس تخمین پیلوت های است که به پشتیبانی عساکر افغان در جنگ های روز دوشنبه پرواز می کردند. بر خورد ها بعد ز آن رخ داد که گوریلا های که از پاکستان می آمدند به یک پوسته نظامی سر حدی حمله نمودند. گفته می شود بمب ها وهلیکوپتر های امریکایی برای پشتیبانی از عساکر افغان فرستاده شدند.

خلع سلاح گارد ملی آغاز شد

روند خلع سلاح وغیر نظامی کردن افراد مسلح گارد ملی آغاز شد. به گفته مسئوولان وزارت دفاع دهها فرد نظامی سلاح های خود را به این برنامه تحویل داده و به زندگی ملکی بر گردانیده می شوند تاکنون بطور مجموعی در دوره های آزمایشی به اصلی برنامه DDR نزدیک به دوازده هزار فرد مسلح از قطعات مختلف وزارت دفاع خلع سلاح شده اند، درنظر است تا برگزاری انتخابات ریاست جمهوری شصت در صد شبه نظامیان خلع سلاح شده وتمام سلاح های ثقیل جمع آوری شود. کارشناسان روند خلع سلاح را در افغانستان بسیار کند توصیف کرده و مسئوولین دولتی را در این راستا مقصر می دانند.

ثبت نام در دایکندی تاحال آغاز نشده است

تابه حال در تعدادی از ولسوالی های دایکندی برنامه ثبت نام رأی دهندگان آغاز نشده است. نادر علی رحیمی ولسوالی کجران گفت مردم ا ین ولسوالی منتظر ا ند تا امکان مشارکت آنهادر انتخابات آینده فراهم شود آقای رحیمی وضعیت امنیتی کجران را برای ثبت نام رای دهنده گان مساعد توصیف کرد. وی افزود: در ولسوالی چتی نیز مردم بابراه انداختن تجمعات، از دفتر مشترک تنظیم انتخابات خواستند مراکز ثبت نام رأی دهنده گان را فعال سازد.

خپل دینی علماوو خلک له نوم لیکنې منع کړیدي

دبغلان ولایت یو شمیر دینی علماوو خلک دولسمشری په تولټاکنو کې له کډون څخه منع کړیدي. ددغه ولایت داطلاعاتو او کلتور ریاست یو چارواکي ددې خبر په څرګندولو داهم وویل چې له خلکو یې غوښتي چې ددغو کسانو په خبرو دوکه ونخوري اوپه تولټاکنو کې فعاله ونډه وانه خلي. خودبغلان ولایت دغه چارواکی نه دي ویلي چې دغه علما څوک دي له کوم تنظیم او له کومې ډلې سره تړاو لري.

په لوګر کې بمی برید درې ماشومان ووژل

دلوکر ولایت دبرکی برک ولسوالی کې دیوې چاودنې له امله درې هلکان مړه شوي دي. رپوټونه وایی دغه درې واړه کوچنیان له ولسوال سره په یو موټر کې سپاره وو چې په بایسکل کې ځای پرځای شوی بم دسړک له غاړې دریمود په وسیله وچول شو. ولسوال او موټر چلونکی دواړه بچ شوی دی. چارواکو ددغه چاودنې پړه په طالبانو اچولې او وایی چې دغه برید ددې لپاره شوی چې خلک وویروی شي اوپه راتلونکو انتخاباتو کې برخه وانخلي.

د لوی او ښښونکی خدای په نامه
سرمقاله

خلک دخپل وړ کاندید په ټاکلو کې هک پک دي

د موقتي او انتقالي دورو له رامنځته کیدلو څخه وروسته تر اوس مهال پورې که له یوې خوا لازیاتې ستونزې په منځ کې پرتې دي او د خلکو باور او اعتماد یې په مرکزي اداره باندې کمزوری کړی دی خو له بلې خوا د زیاتو هغو بریاوو شاهد هم یو چې د چاپه ذهن او فکر کې پرون تیریدلی نشوی له ډیرو بریاوو څخه په هیواد کې د اساسي قانون او دادی اوس د ولسمشرۍ لپاره د راتلونکو ټول ټاکنو او پارلماني انتخاباتو ته په راتلونکي کال د تیاري شاهد یو. تر اوسه پورې په هیواد کې د خورو ورو ستونزو او د رایو ورکولو په مرکزونو باندې له انتقادونو سره سره چې زیات هیوادوال له کارتونو څخه پاتې شوی دی بیا هم څه د پاسه ۹ میلیونو هیوادوالو کارتونه د انتخاباتو لپاره تر لاسه کړي دي خو هغه څه چې په اوس مهال د رایو ورکوونکو په ذهن کې تیریږي او اندیښنې ورسره دي هغه د ولسمشرۍ لپاره د کاندیدانو د ژوند پیژندګلوی او د هغوی د تیرو کړنو او اعمالو په باره کې معلومات دی تر اوسه پورې زمونږ هیوادوال که څه هم د رایو ورکولو لپاره شیبې شماري خو د خپلو کاندیدانو په باره کې د هر چا په ذهن کې پوره پوره پوښتنې موجود دي اوس هر کاندید د خپرونو له لارې په دولت باندې د انتقاد کولو او د خپلو راتلونکو پروګرامونو او تګ لارو په باره کې کنفرانسونه ورکوي او د هیوادوالو په وړاندې د خپلو راتلونکو کړنو او تګلارو په هکله سینه ډبوي او دا کار په حقیقت کې هغه متحدالمال معمول ویناوی دی چې د نړۍ په هر هیواد کې یې یو کاندید خپلو خلکو په وړاندې د رایو د اخیستلو لپاره سرته رسوي مهمه داده چې زمونږ خلک د خبرې رسنیو او مطبوعاتوله لارې د کاندیدانو د ژوند او تیرو کړنو او اجراتو په باره کې کافي معلومات تر لاسه کړي څو خلک په بشپړه توګه جمهوري ریاست لپاره د یوه کاندید د ملي او وطنپرستانه احساس او خدمت په هکله معلومات تر لاسه کړی چې له هغه وروسته خلک په قضاوت سره یو کاندید ته رایه ورکړی کاندیدان باید خلکو ته د خپلو راتلونکو پلان او پروګرامونو تر څنګ په خپلو تیرو کړنو او خدمتونو هم رښا واچوي چې څه یې د خلکو او وطن لپاره تر سره کړي. ۲مخ

د اتمی بم سوداګری

خوشحال خاځی

سړکال د ډیرو خبری رسنیو او خبری اژانسونو له لوری د پاکستان د اتمی بم په اړوند راز راز خبرونه اوریدل کیږی دا هغه پینبه ده چې ټوله نړی یې ولړزوله. د پاکستان د اتم په چارو کې کار پوه. او د پاکستان د اتمی بم جوړوونکی. ښاغلی ډاکټر عبدالقدیر خان نوم و چې د نړی ټولی عامه خبری رسنی یې خانته بیلی کړیدی. ښاغلی ډاکټر عبدالقدیر خپلی ځیرنی او کروژنی پر ډیرو هیواد وپلورلی دی. او د اتمی بم په هکله یې معلومات نورو هیوادو ته په غیر قانونی توګه وړاندی کړیدی. چې د دی هیوادونو په کتار کې ایران. لیبیا. او شمالی کوریا نومول شویدی.

خو پوښتنه داده چې پاکستان څنګه وکړای شول چې د اتمی بم جوړولو د پاره ټول سامان څنګه او له کومه برابر. او لاس ته یې راوړی؟ او په رښتیا سره پاکستان په یواځی توګه د دی جوګه او بریالی شو چې اتمی بم دی جوړ کړای شي؟ او په پای کې په رښتیا سره پاکستان د دومره لوی لګښت جوګه و چې دا ټول لګښت دی په خپله غاړه واخلی سربیره پردی چې پاکستان د نړی له ډیرو بانکونو او نورو پور ورکوونکو نړیوالو اقتصادی څانګو څخه یو لوی پور وړی دی. چې پور یې میلیاردو. میلیاردو ډالرو ته او د نړی پورورپو هیوادونو په کتار کې ولاړ هیواد دی. او په پای کې آیا په رښتیا سره ډاکټر عبدالقدیر خان په یواځی توګه وکړای شول چې د دی ټولو نومول شوو هیوادو سره معاملی وکړی او هغوی ته د اړتیا وړ هغه څه چې په اتمی بم کې کارولګیږی ورسوی؟ خو که په لنډه توګه وویل شي. هغه به داوی چې د پاکستان د اتمی بم جوړول د سړی جګړی پر مهال او پدی سیمه کې د دوو پوځی ټرنونو وارسا او ناټو. دسیالیو پایله وه چې پاکستان د همدغو هیوادو په مرسته چې نن یې ملامته کوي او د سره ښامار د ګوابښ تر نامه لاندی د دی جوګه شو چې اتمی بم جوړ کړی. زمونږ د وګړو په مینځ کې یو خورا نامتو متل دی چې څه کړی هغه به ریبی.

کله چې د پخوانی شوروي اتحاد ټنر په نړۍ کې په تولیدو شو. نو د پخواني شوروي په خاوره ځینو سیمو کې لکه. قزاقستان. اوکرایین. او بیله روسیې کې دا ډول وسلو او اتمي وسلو شتون درلود چې بیا وروسته د امریکا متحده ایالاتو د هغه مهال شوروي او بیا وروسته د روسیې د فدراسیون سره د لوظنامو په ترڅ کې خو یا خو له مینځه یوړل شوي. او یا دننه د روسیې فدراسیون خاوری ته ولیږدول شوی خو نور ټول سازو سامان او هغه ټول کار پوهان او هغه ټول وګړي چې پدې څانګو کې یې دندی سرته رسولی او په چارو بوخت وو ټول په خپل ځای پاتی شول.

د پخواني شوروي هیواد وګړو ته د لومړي ځل د پاره دا مو که په لاس ورغله چې د ډیر کم لګښت او بی له کومه خنډ ګڼري خنده او ستونزو څخه بهر ته ولاړ شي. ددې سره سم ډیر هغه کار پوهان چې په دی برخه کې په چارو بوخت وو. او د اقتصادي ستونزو له وجی بهر ته د کار او بار د لټولو په هڅه کې شول او زیاته برخه کارپوهان چې اوس دننه په هیواد کې ورته اړتیا نه لیدل کیده نورو هیوادو ته کډوال شول د بیلګی په توګه د پخواني شوروي اتحاد نامتو فزیک او ریاضي پوه ښاغلی ابالیکن چې تر ډیری مودی د جرمني په هیواد کې کډوال و. په ځانګړي توګه: اروپا. امریکی او اسراییلو ته دا ډول کارپوهان کډوال شول. چې لدی املې په وار. وار ځینو هیوادو خپلی اندیښنی وړاندی کړی. که څه هم چې یوه امریکایي پانګه وال د جورج سوریس په نوم چې د کارپوهانو د تګ د مخنیوي په هڅه کې شو. او دی ډول کارپوهانو ته یې په پخوانی شوروي اتحاد کې دننه د بوختیا چاری یې برابرولی ده هڅه کوله چې د دا ډول وګړو د تګ مخه په ځانګړي توګه چین. ایران او نورو د مینځنۍ ختیځ هیوادو ته ونیسي خو لکه چې ښکاره ده دی هم پدی هڅو او هاندونو کې بریالی نشو. او دده پردی هڅو هاندونو باندی د پوهانو د ځپلولو تورو لګول شو. له دی سره سره ډیر دا کارپوهان له هیواد څخه بهر ته په تللو از شول. د پخوانی شوروي اتحاد له رنګیدو سره سم د واک پر سر دنویو او پخوانیو کړیو تر مینځه د سیالي پاییله دا شوه چې څارنه او ساتنه هم بی اغیزي شي کیدای شي ډیرو ته ښکاره وي چې اتومي او یا خودنورو ډیرو پر مخ تللو وسلو ساتنه او سمبالونه د دولتي اسرارو په توګه ډیر خوندي ساتل کیدل چې دا ډول د وسلو لاس ته راوړل ګران او ان چې ناشوني خبره وه.

خو خبره داده چې څنګه اتمي خیزونه بهر ته راووتل؟ او دا د هر چا د وس او توان خبر وه؟ د اتمي ماشین آلاتو او نورو ارتیایي موادو تر څنګ د بدایي شویو اورانیمو د راکړی ورکړی پیسی کله کله دلته او هلته په غیر قانوني توګه چې خبری او آوازی هم ځینی ځینی وخت هلته او دلته خپریدی تر ډیره شونی ده. یوه ډیره په زړه پورې پینبه په خپله د امریکی دننه وه چې پدې تراو د پخوانی شوروي اتحاد یو وګړي د (یه پون چیك) چې ډیر مهال یې په جیل کې تیر کړی و او په ناڅاپه توګه په امریکی رانبکاره شو. ونیول شو. د ډیرو په آند ددی ډول د سوداګریو او راکړو ورکړو په برخه او څانګه کې ځانګړی ډلی بوختی وی. په اروپا کې هم دا ډول پینبې تر ستړګو او اوریدل شویدي. په ځانګړي توګه د جرمني هیواد ددی ډول سوداګرو په مرکز بدل شو تر هغه چې د جرمني په خټینه برخه لاد پخواني شوروي پوځیانو د را ایستلو په مهال د خپل هیواد په لوری ډیر دا ډول سپکی او درندی وسلې په لاره کې ترې تم او بیا د یوګوسلاویا د جګړو په ډګرونو کې را ځرګندی شوي. پدی اړوند ان د ماسکو په ښار کې چاودنی او وژنې وشوی د بیلګی په توګه د ځوانانو د کمسمول د ورځپاڼی خبریال دیمتری (خولودوف) چې دا لاری او ګودری یې څارلی او ددی په هکله یې څیړنی کولی په خپل د کار په دفتر کې د یوې چاودنی په ترڅ کې ووژل شو.

خو پاکستان هغه مهال اتمی بم د جوړولو تکل وکړو. او یا خو وهڅول شو چې د هند سره د سیالي په توګه برخو کې د سیالی نشو. او بله دا چې زمونږ په هیواد کې په کال ۱۳۵۷ د غویي میاشتی کرغړنه پینبه. او یا خو په بله ژبه کله چې د هیواد پوځیانو په پوځي کودتاګانو پیل وکړ. او ددی سره سم روسانو په هیواد یرغل او خپل پلوه رژیم او واکمني یې د کابل پر ختم وتپله او نابیره چې هیڅا ورته پاملرنه نکوله او یا خو د پاملرنې وړ نه وه. د نړی او نړیوالو ورته پام واوښت. د افغان مجاهدینو د جګړو پر مهال د ښکیلاك پر ضد. او نړیوالو مرستو لړی افغان مجاهدینو ته د پاکستان د لوری او د پاکستان پر سر د سرو زرو وربښت پیل شو.

ډیرو ته به د دیر شو کالو پخوانی. او ننی پاکستان پر تله کول ستونزمنه خبره نه وي. چا چې پخوانی پاکستان او په ځانګړي توګه پینبور او د هغه پورې تړلی سیمې یې لیدلی وی. لنډه دا چې د پخوانی شوروي اتحاد له ماتې څخه وروسته او د امریکا متحده ایالاتو له وتلو سره سم ددی سیمې څخه د نړی پدې سیمه کې سیالي رامینځته شوه. په ځانګړي توګه کله چې زمونږ هیواد د ګاونډیو د لاسوهنو د سیالیو په ډګر واوښت. نه یواځې پاکستان د نړی پدی سیمه کې د بر لاسی په هڅو پیل وکړ او د نویو او بی خاونده ځمکو د نیولو تکل یې وکړ. او بله په مینځني خیټځ کې د اسراییلو او د عربي نړۍ تر مینځه زړه بګنونکي اوږدو جګړو او د اسراییلو څخه د عربي نړۍ وګړو کرکه او د پخواني شوروي څخه د بی دینه کیدو له ویرې پدې سیمه کې د اسلامي ګونډونو او تنظیمونه را بر سیره کیدل او د افغانستان په سپیځلي جګړې کې د ډیرو عربو ګډون چې مشري یې نامتو عربو او په ځانګړي توګه اسامه بن لادن کوله خو ددی سره سره تر اوسه ټوله نړۍ پدی نده بریالی شوی چې ددې ټولو استخباراتي ساینسي پرمختګونو سره سره اسامه ونیسي. ایران هم چې د عراق سره د اوږدی جګړې څخه وروسته وزګار ناست و او ددی د پاره چې بی له اغیزی نه وی پاتی دی د سیالیو ډګر ته یې منځه کړه. پاکستان هڅه وکړه چې د پخواني شوروي اتحاد د له مینځه تللو له وجی دا سیالي ډکه کړي. ایران خو لادی ډول نغوتی ته د اوس پاره چمتو نه و. ددی دوو لویو قدرتونو د نشتوالي پدی سیمه کې. پاییله دا شوه چې پاکستان. هندوستان او ایران تر مینځه دا سیالي پیل شي. پد خواني شوروي په رنګیدو سره او ددې نویو خپلواکه هیوادو رابرسیره کیدو او د جوتو او خوندي پولو د نشتوالي له وجی. چې د پخواني شوروي اتحاد په خاوره کې را څرګند شول. د اتومي ځانګو د کارپوهانو کډوالیدل د اقتصادي ستونزو له وجې. څخه ستونزمنه خبره نه وه چې د اتمي توکو پلورل د ګرانه خبره کنند. وي. په ننه د پخواني شوروي کې ډیری پوځیان ددی ډول راکړو ورکړو کې ګرمول کیږي. د ډیرو په آند د قفقاز جګړه ددی د پاره ونښته چې لاره د مخدره توکو د لیږدولو د پاره لدی سیمې څخه اروپا او نورو هیوادو ته پرانیزي. ددی جګړو یو لامل همدا غیر قانوني چاری شمیرل کیږي او په پای کې خو د هندوستان او پاکستان د اتمي توغندیو آزموییلو او سیالي خو څه د پاسه اوه کاله تیریږي او دا چې په لمړي سر کې دی ګوابښ ته چا ولی خاصه پاملرنه نه کوله. او اوس دومره د اندیښنی وړ شوه. دا نو بیا بیله خبره ده.

دست آورد خون و آتش

ساجده میلاد

من به سرزمینی می اندیشم که کبوتران سپید بال آشتی بر فراز هر بامی لانه بسازند.

هیچ کودکی. گرسنه نخوابد در آن چهچه هر پرنده یی عاشقانه باشد

هر ترانه پیامی از بهار داشته باشد.

و هر کودک آن به گل و لبخند آشنا باشد

این خواست و توقع هر افغانی است وقتی که با جهانی از امید و انتظار به وطن بر میگردد.

افغانها بیشتر از هر کس و سرزمینی درد و مصیبت را تجربه کرده اند ولی دیگر نمی خواهند گذشته های تلخ و اندوهبار تکرار شود و آنها آنرا تجربه کنند اگر امروز روزگاری شهد شلیک هزاران راکت و مرمی بوده اند دیگر حوصله شنیدن فیر یک مرمی را هم ندارند. اگر این فیر در دورترین نقطه افغانستان هم باشد. که نباشد.

افغانها در مهاجرت در پهلوی فقر. گرسنگی و درد بر وطن زیستن در صلح و آبادی را نیز تجربه کرده اند و با تمام قوا آرزو دارند که تا شاهد افغانستان آباد و زندگی در رفاه و صلح باشند آنها می کوشند تا وطن شان را آباد کنند.

پس چه خوب است تا بیدار شوند کور دلانی که هنوز هم آبادی و سعادت خود را در ویرانی و بربادی دیگران می جویند.

آنهاییکه قناعت را از دارهای بلند حلق آویز کرده اند و هنوز هم به فکر غصب و غارت اند.

آنهاییکه افغانستان را به خاطر منافع شوم خود ویران و چندین نسل را به بدبختی و تباهی کشیدند

آنهاییکه سفره های شان را از اشک و خون هزاران یتیم و بیوه این سرزمین رنگین کردند موقع بدهند تا نسلی که در جنگ قد بلند کردند و به پیری زودرس رسیدند اندوه. فقر محرومیت. گرسنگی و همه انواع مصایب را از برکت آنها تجربه کردند و شناختند. نفسی تازه کنند وآرام زندگی کنند. دیگر وقت آن رسیده است تا آنهاییکه دستهای شان به خون مردم رنگین و جیب های شان از حق مردم لبریز است به گوشهٔ خود بخزند و از دست آوردهای خون و آتش آنچه را که اندوخته اند و برای چندین نسل شان کافیست استفاده کنند.

آنها اجازه بدهند تا این موقع طلایی که توجه تمام جهان و جهانیان به سوی آبادی افغانستان معطوف شده است از دست نرود از آن به نفع مردم رنجدیده این سرزمین استفاده شود. اجازه بدهند تا دیگر کودکی از مادرش نپرسد که:

مادر! پدر چی معنی؟ مادر گرسنه استم و کودکان این سرزمین مثل سالها تنها خواب نان ببینند و گرسنه بخوابند.

آنها حق بدهند تا هر کودک این سرزمین درس بخواند لباس خوب بپوشد. بازیچه و عروسک داشته باشد.

و خانه و سرپناهی برای زندگی کردن داشته و با گل لبخند آشنا باشند.

خلک دخپل وړ کاندید ...

اوس له خلکو لاره ورکه شوې ده چې چاته د هغه د کومو کړنو او خدمتونو له امله رایه ورکړې. په دوی کې داسې کاندیدان شته چې لا تر اوسه پورې هیوادوال د هغو د نومونو ژوند او تېرو دندو په باره هیڅ معلومات نه لري ټولی دولتي رسنۍ باید د کاندیدانو د ژوند لیك په هلکه د خلکو په لاس پوره معلومات ورکړی چې بیا خلك د هغو د تیرو خدمتونو له امله د خپل انتخاب وړ کاندید پیدا کړلی شي.

ورزش ضامن تندرستی

متصدی صفحه: بشیر نذیر

دهاکی انتخاباتی سیالی ترسره شوی

په تیره اونۍ کې د کابل ښار د هاکی انتخاباتی سیالیو کې د پولیسو د هاکی ټیم د لمړی مقام په ګټول سره د اتلولۍ کپ لاسته راوړ دا لوبی چې د کابل په حضورۍ چمن کې د هاکي د انتخاباتی سیالۍ لپاره پیل شوی وی پدی سیالیو کې د پولیسو، د المپیک د ځوانانو، پوهنی وزارت، هوایی چلند وزارت او د خوشال خان د لیسو ټیمونو ګډون کړی وو د دغه سیالیو په پایله کې د پولیسو د هاکی ټیم د دولسو امتیازو په ګټلو د لمړی مقام ګټونکی شو د خوشحال خان ټیم د نهو امتیازو په لرلو سره دوهم مقام او هوایی چلند ټیم د شپږو امتیازو په لاس ته راوړلو دریم مقام وګاټه.

د جیدو انتخاباتي سیالۍ پای ته ورسیدی

د روان کال د اسد په شپږمه د جیدو انتخاباتی سیالۍ د ځوانانو او نوو ځوانانو ترمنځ د کابل په سپورتی لوبغالی کې پیل شوی پدی سیالیو کې نوی ځوانانو چې د ځوارلسو کلونو څخه کم عمر لری او هغه ځوانان چې د ځوارلس او اتلسو کلونو ترمنځ عمر لری ګډون کړی وو د جیدو په دغه سیالیو کې چې د کابل ښار شلو لوبغاړو ګډون کړی وو د دغه سیالۍ تیره اونۍ پای ته ورسیدی

گزارش مسابقات والیبال در ولایت لوگر

نظر به پلان آمریت ورزشی ولایت لوگر مسابقات والیبال بین ۱۹ تیم مربوط آن ولایت به روزهای پنجشنبه، جمعه، و شنبه در لیسه جهادی کلنگار تدویر یافت در ابتدا آیات قرآن عظیم الشان توسط یکی از ورزشکاران قرائت سپس محترم جان علم حسنی سکرتر جنرال فدراسیون والیبال کمیته ملی المپیک در مورد نقش وارزش بازی والیبال در جامعه صحبت همه جانبه نمودند.

به تماشای این مسابقات که قبل از ظهر و بعد از ظهر جریان داشت صدها علاقمند این ورزش حاضر بودند و از قرأ و قصبات به دیدن این مسابقه تشریف می آوردند و ورزشکاران را با کف زدن ها تشویق مینمودند، که در نتیجه نتاییج ذیل بدست آمد.:

۱: تیمA والیبال لیسه جهادی کلنگار به سرپرستی سید جواد حایز مقام اول و قهرمان مسابقات.

۲: تیم آزاد والیبال کلنگار به سرپرستی سید طاهر شاه دانش حایز مقام دوم

۳: تیم والیبال متحد افغان به سرپرستی فرهاد عباسی حایز مقام سوم شناخته شدند

به برنده گان مسابقات کپهای مقام های اول، دوم و سوم تحسین نامه ها ودیگر جوایز توسط محترم حاجی ادیب الله آمر ورزشی و سید منور شاه ترینر تیم ملی والیبال کشور توزیع گردید

آخرین تمرین تیم ملی پیش از مصاف با چین

آخرین تمرین تیم ملی فوتبال ایران پیش از مصاف با چین ساعت ۱۹ به وقت محلی در ورزشگاه کارگران پیکنگ با حضور کادر فنی و ۲۱ بازیکن تیم ملی انجام شد.

به گزارش خبرگزاری دانشجویان ایران (ایسنا)، در تمرینات امروز دویدن، کشش، گرم کردن، کار با توپ، بازی فوتبال، شوت به سمت دروازه، پنالتی، بازی در فضای محدود، و... در دستور کار مربیان قرار داشت که به مدت ۶۰ دقیقه انجام شد.

از نکات قابل توجه در این تمرینات حضور پر تعداد خبرنگاران چینی و تهیه گزارش از تمرینات تیم ملی ایران بود، که در عین حال تعداد اندکی خبرنگار عرب نیز حضور داشتند. البته مطابق با قوانین کنفدراسیون فوتبال آسیا کلیه خبرنگاران پس از گذشت نیم ساعت از تمرینات تیم ملی، مجاز به حضور در کنار زمین و تهیه گزارش هستند.

علاوه بر این در پایان تمرینات باران شدید شروع به بارش کرد و در حال حاضر هوای پیکنگ کاملا ابری و بارانی است.

لازم به ذکر است ابراهیم تقی پور مدافع تیم ملی فوتبال ایران که در بازی با کوریای جنوبی دچار آسیب دیدگی شده بود در سلامت کامل به سر می برد و به همراه سایر بازیکنان به تمرین پرداخت.

تورنمنت فوتبال کلید

قرار است یک تورنمنت جالب فوتبال به مناسبت اولین سالگرد رادیو کلید مطابق به ۲۸ اسد سالروز استر داد استقلال کشور بتاریخ ۱۵ اسد سال جاری به اشتراک ۸ تیم از تیم های ب در استدیوم ورزشی کابل بر گزار شود.

که این تورنمنت به همکاری رادیو کلید و به همکاری مستقیم فدراسیون فوتبال برگزار می گردد.

یابی دایکا بایسکل رانی استرالیایی از شرکت در المپیک آتن محروم شد

یابی دایکا بایسکل ران تیم ملی استرالیا از شرکت در بازیهای المپیک آتن محروم شد و بن کرستن جایگزین او شد.

دایکا قهرمان پیشین بایسکل رانی جهان، یکی از امیدهای بدست آوردن مدال در بازیهای المپیک بود، اما کمیته المپیک استرالیا می گوید او در مورد استفاده از دواهای غیرمجاز (دوپینگ) به کمیته دروغ گفته بود.

با وجودیکه وی متهم به استفاده از دوا های غیرمجاز (دوپینگ) نشده است، مقامات می گویند دروغ گفتن به قاضیان بتنهایی خود، جرم محسوب می شود.

دایکا می گوید که وی از این رأی فرجام خواهد خواست

په کابل ښار کې د فوټبال د لیګ سیالۍ د چنګاښ د میاشتی په یو دیرشمه نیټه پیل شوی د کابل په سپورتی استیدیوم کې به دوه اویا ورځی دوام وکړی د فټبال د لیګ د سیالیو په وروستی پړاو کې د سولی لوبډله دری د اوه په مقابل کې د حبیبیانا د ځوانانو په لوبډلی او د میهن د فوټبال لوبډله یو د صفر په وړاندی د سری میاشتی په لوبډلی او د میوند لوبډله دوه د صفر په وړاندی د شعاع پر لوبډلی بریالی شوی.

ایران به دیدار نیمه نهایی صعود کرد

تیم ملی ایران در دیداری نفس گیر و تاریخی کوریا جنوبی رقیب دیرینه و قدرتمند آسیایی خود را شکست داد تا با غرور به دیدار نیمه نهایی جام ملت های آسیا صعود کند.

به گزارش خبرگزاری محصلین ایران (ایسنا)، در این دیدار ایران سه بار از حریف پیش افتاد اما، هر بار با اشتباه های خط دفاعی، نتیجه به تساوی کشیده می شد. سرانجام علی کریمی با گول سوم خود و چهارمین گول تیم ملی کشورمان پیروزی ایران را رقم زد.

بحرین و چین در نیمه نهایی

تیم ملی فوتبال بحرین برای اولین بار در تاریخ این کشور کوچک خلیج فارس، بدور نیمه نهایی مسابقات جام فوتبال ملتهای آسیا راه یافت.

بحرین در ضربات پنالتی با نتیجه ۳-۴ ازبکستان را پشت سر گذاشت. مسابقه که در شهر چنگ دو، چین برگزار شد، بعد از اتمام وقت اضافه دو تیم ۲ بر ۲ مساوی بودند و تمامی گولها در ۳۰ دقیقه بازی بثمر رسید.

در ضربات پنالتی ازبکستان دو گول آخر را از دست داده و پیروزی را تقدیم تیم بحرین کرد. این اولین باخت ازبکستان بود، این تیم هر سه مسابقه خود در دوره مقدماتی در گروه C را برده بود.

بحرین در دورمقدماتی در گروه A با تیمهای چین و قطر بتساوی و در مقابل اندونیزیا با نتیجه ۱-۳ به پیروزی رسیده بود.

بحرین سه شنبه آینده در نیمه نهایی رقابتها، بدیدار برنده مسابقه جاپان و اردن می رود. در بازی دیگر روز جمعه در یکچهارم نهایی مسابقات در پیکنگ، تیم ملی فوتبال چین میزبان رقابتها با نتیجه ۳ بر صفر تیم عراق را شکست داد و به مرحله نیمه نهایی راه یافت.

چین در نیمه نهایی با برنده مسابقه بین ایران و کوریای جنوبی روبرو خواهد شد.

د فټبال د لیګ سیالۍ به ۷۳ ورځې دوام وکړی

ایران قهرمان پنجمین دوره مسابقات باسکتبال مردان غرب آسیا شد

تیم ملی باسکتبال ایران عصر روز جمعه در چهارمین دیدار خود در آخرین روز از مسابقات باسکتبال قهرمانی مردان غرب آسیا برابر لبنان پیروز شد، تا به چهارمین پیروزی خود در این مسابقات دست یابد.

به گزارش خبرگزاری ایرنا، تیم ملی ایران که پیش از این با کسب سه پیروزی برابر تیمهای سوریه، اردن و عراق قهرمانی اش در این مسابقات قطعی شده بود، در این دیدار و در وقت اضافه با نتیجه ۹۳ بر ۸۵ بر تیم لبنان پیروز شد تا در صدر این مسابقات جای گیرد.

این دیدار در وقت قانونی با مساوی ۷۷ بر ۷۷ به پایان رسیده بود.

این مسابقه که در حضور رئیس سازمان تربیت بدنی و سرمنشی کنفدراسیون باسکتبال آسیا و کمیته ملی المپیک ایران برگزار شد، ابتدا با پیشتازی بازیکنان لبنانی آغاز شد. بازیکنان ایران که قهرمانیشان در این مسابقات قبلاً مسجل شده بود، فشار چندانی به خود وارد نمیکردند، اما علاقه مسئولان فدراسیون به پیروزی در این مسابقه باعث شد تا آنان در نیمه دوم فشار بیشتری بر تیم حریف وارد کرده و بازی را به تساوی بکشانند. بازیکنان ایران در وقت اضافه با قاطعیت تمام بازی را به نفع خود به پایان رساندند.

در پایان این مسابقات، تیم ایران با هشت امتیاز اول شد و تیمهای سوریه و لبنان به ترتیب با هفت و شش امتیاز دوم و سوم شدند.

این مسابقات با دیدار تیمهای عراق و اردن به پایان میرسد.

بعد از دیدار تیم ملی ایران با تیم لبنان، جام قهرمانی این مسابقات که پنجمین دوره این مسابقات بود، توسط رئیس سازمان تربیت بدنی به تیم ایران اهدا شد. دیدار تیمهای ایران و لبنان را یارونسکی از بلاروس و حسن احمد از بحرین قضاوت کردند.

پنجمین دوره مسابقات باسکتبال قهرمانی مردان غرب آسیا با شرکت پنج تیم از روز دوشنبه هفته گذشته در سالون باسکتبال آزادی تهران آغاز شده بود.

تاخیر در پرتاب فضاپیمای تحقیقاتی عطارد

پرتاب فضاپیمای "پیام آور تیر" (Mercury Messenger) که به مطالعه دقیق نزدیکترین سیاره منظومه شمسی به خورشید خواهد پرداخت به تأخیر افتاده است.

این فضاپیما قرار بود روز دوشنبه در ساعت ۰۶:۱۶ به وقت گرینویچ از "کیپ کاناورال" در ایالت فلوریدای امریکا سوار بر یک راکت "بوئینگ دلتای ۲" سفر هفت ساله خود را آغاز کند.

با این حال پرتاب راکت به علت هوای نامساعد به تأخیر افتاده است.

این فضاپیما قرار است در سال ۲۰۱۱ وارد مدار عطارد (تیر) شود و به مطالعه جو، ترکیبات و ساختمان آن بپردازد.

این پرتاب اکنون با ۲۴ ساعت تأخیر صورت خواهد گرفت. مقام های آژانس فضایی امریکا، ناسا، گفتند که کنترول کنندگان پرتاب به دلیل ظاهر شدن ابرهای ضخیم در آسمان تصمیم گرفتند پرواز را متوقف کنند.

ناسا گفت که ۳۰ درصد احتمال دارد هوای مشابه در روز سه شنبه بار دیگر مانع پرتاب فضاپیما شود.

این نخستین ماموریت تحقیقاتی امریکا به عطارد طی بیش از ۳۰ سال خواهد بود.

این ماموریت به جمع آوری اطلاعاتی درباره ترکیب و ساختمان پوسته عطارد، تاریخ زمین شناسی، نواحی قطبی، جو و محیط مقناطیسی و همچنین محتویات هسته آن خواهد پرداخت.

دانشمندان متصدی این ماموریت امیدوارند که این پروژه ۴۲۷ میلیون دالری به حل برخی از اسرار این سیاره کمک کند.



عطارد احتمالاً سیاره یی است که در مقایسه با سایر سیارات موسوم به "سنگی" یعنی زمین، زهره و مریخ کمتر مورد مطالعه قرار گرفته است.

در سال ۱۹۷۳ فضاپیمای "مارینر ۱۰" ناسا سه بار از کنار این سیاره گذشت، اما تنها توانست از ۴۵ درصد سطح آن عکس بگیرد.

منجمان می دانند که عطارد، که چگالی آن با زمین قابل قیاس است، به میزان دو سوم از آهن تشکیل شده است، اما علت این مسأله که چرا در مقایسه با سایر سیارات سنگی تا این اندازه غنی از آهن است مجهول است.

رانندگان ترکیه ارتباط با امریکا را متوقف کردند

اتحادیه رانندگان ترکیه می گوید رانندگان لاری وابسته به این اتحادیه از انتقال مواد تدارکاتی به نیروهای امریکایی در عراق خودداری خواهند کرد.

این مطلب پس از چندین مورد گروگان گیری از رانندگان از جمله رانندگان ترکیایی اعلام می شود.

اتحادیه رانندگان ترکیه نماینده شرکتهایی است که روزانه تا ۳۰۰ لاری برای حمل و نقل مواد تدارکاتی نیروهای آمریکایی تامین می کند. اعلام این مطلب پس ازآن صورت گرفت که یک تبعه ترکیه که به گروگان گرفته شده بود به دست گروگان گیران به قتل رسید.

تصاویری که نشان می دهد که این فرد با شلیک گلوله از پا در می آید در وبسایت یکی از گروههای مبارزه جوی عراق منتشر شده است. جزئیات هویت این مرد و زمان به قتل رسیدن او هنوز روشن نیست.

عبدالله گل وزیر امور خارجه ترکیه گفت که کشورش تلاش های فشرده یی انجام داد تا تبعه خود را از اسارت رها کند.

پرچمی که گروگان گیران در مقابل آن گروگان خود را به قتل رساندند شبیه به پرچم گروه زرقاوی موسوم به توحید و جهاد است.

آقای بوش: هنوز احتمال آن هست که سلاح های کشتارجمعی در عراق پیدا شود

رئیس جمهور بوش باردیگر از اقدام آمریکا درحمله به عراق دفاع کرد وگفت هنوزهم احتمال آن می رود که سلاح های کشتارجمعی درعراق پیدا شود.

آقای بوش روزدوشنبه اذعان کرد سلاح های کشتارجمعی که علت اصلی جنگ بود، هنوز درعراق پیدا نشده است. با این حال آقای بوش گفت اعزام نیروهای امریکا به عراق، تصمیم صحیحی بود وافزود صدام حسین رئیس جمهور برکنارشده عراق، ازقابلیت تولید سلاح های ممنوعه برخوردار بود وبا تروریست ها نیزارتباط هایی داشت.

جان کری کاندیدای حزب دموکرات برای ریاست جمهوری امریکا با انتقاد ازدلایل آقای بوش درمورد حمله به عراق، گفت اگربه ریاست جمهوری انتخاب شود، هرگزامریکا را به سوی جنگ منحرف نخواهد کرد.

درهمین حال، کمیسیون رسیدگی به حملات ۱۱ سپتامبرنتیجه گیری کرده است صدام حسین وشبکه القاعده تشریک مساعی نداشته اند.

د نوم لیکنې لرې به نورو سیمو ته وغځول شي

د راروانو انتخاباتو لپاره دراېي ورکوونکو نوم لیکنې لرې به دزمري دمیاشتې تر پنځه ویشتمې نیټې پورې په ځینو سیمو کې دوام وکړي. دانتخاباتو دسمون دګډ دفتر مطبوعاتي مسوول سید اعظم وویل پاتې دولس ورځې به په هغو سیمو کې دا پروسه دوام وکړي په کوم کې چې تر اوسه نوم لیکنه نه وي پیل شوی او یا کمو خلکو کارتونه اخیستی وی. بناغلی اعظم همدا راز دکابل په ځینو سیمو کې دنوم لیکنې دمرکزونو بیا پرانیسته تائید کړه او وې ویل دا پروسه به په کابل کې په څو راتلونکو ورځو کې پای ته ورسیږي.

د اخلاقي انحرافاتو...

د ننګرهار د امنیې قوماندانې مرستیال امیر خان لیوال په وینا ددې اقدام څخه یې موخه په ټولنه کې د اخلاقي انحرافاتو مخنیوي دي. ده وویل په ټولو ویسیارونو او ویسیارخانو به بندیر نه لګوي.

دا د پولیسو د قوماندانۍ په څوکۍ د شمالي ټلوالی د مهم قوماندان حضرت علي ترټاکنې وروسته په ښار کې د ډله ایزو رسنیو خلاف لومړنی کام دی.

د ملي بود جې...

د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي په یوه پرانستونکي وینا کې ټینګار وکړ چې د راتلونکي کال دولتي بودجه باید د ګمرکونو د عوایدو په مرسته پوره شي. په کابل کې له وزیرانو والیانو څخه جوړ غونډه مستوفیانو څخه جوړې غونډه ته علي احمد جلالي ووې ویل موخه داده چې د عوایدو ترلاسه کونکي چارواکي سره هم غږې کړي او د چارو د ښه تر سره کیدو لپاره ډاډ من امنیت ته اړتیا ده.

حمله بر...

جنرال ظاهر گفت حمله کننده گان تعداد دومیل اسلحه مبائیل ومقدار پول نقد را از منزل وی به سرقت برده اند.

این دومین حمله مسلحانه بالای منزل مسکونی یک مقام دولتی است که در شهر کابل طی یک ماه اخیر اتفاق می افتد در مورد قبلی خانه مسکونی عبدالحمید مبارز معین وزارت اطلاعات فرهنگ برای چند دقیقه از سوی افراد مسلح اشغال شد.

نامه وارده

نخست سلام و احترامات خود را خدمت تمام کارکنان ومسوولین روزنامه آزاد و ملی اراده تقدیم داشته و تقاضا دارم که این نامه را بدون تصرف نشر و به گوش آنانیکه به گوش های خویش پنبه مانده رسانیده تا پنبه را از گوش ها بیرون نموده به پریشانی، غریبی و فقر و بیچاره گی آنعده مردم بی بضاعت که قبل از سال ۱۳۷۱ به اساس تشویق و قوانین بانک داری مردم را به ذخیره پول پس انداز دعوت می نمودند بنده فقیر و پیچاره و مامور بدبخت نیز برای آینده خود و فامیلم یک مشت پول را در یکی از بانک ها پس انداز نمودم زیرا نظر به قانون بانک ها امید بر آن بود که پولم محفوظ در بانک نگهداری خواهد شد در اوایل سال ۱۳۷۱ به اثر جنگ های تعمیلی جاه طلبان ناگزیر به یکی از کشورهای همسایه مهاجر و زمانیکه حکومت موقت مستقر گردید امید ما و تمام مهاجرین بطرف وطن جنگ زده و آبادی و امنیت آن گردیده بلاخره درین اواخر بوطن عودت و فعلاً در یکی از خانه های ویرانه و بدون سقف در منطقه کارته ۴ زندگی بخور و نمیر را سپری و خواستم پولی را که سال ها قبل یعنی قبل از سال ۱۳۷۱ طور پس انداز در بانک ذخیره نموده بودم آنرا از بانک کشیده و در یکی از دهات و یا قصبات خارج از شهر کابل خانه یی را برای سپری نمودن شب و روز خریداری نمایم ولی متأسفانه مسؤولین بانک اظهار داشتند که پول شما را سه صفر کم برایتان محاسبه و تادیه میدارم یعنی در مقابل هر یک صد هزار افغانی صرف صد افغانی.

بلی: اقای احدی رئیس صاحب عمومی بانک های افغانستان قبل از سال ۱۳۷۱ نوت های پنج افغانیگی، ده افغانیگی بیست، پنجاه و صد افغانیگی و پنجصد افغانیگی تحویل بانک نموده ام نه نوت های پنجهزار و یا ده هزاری را.

هر گاه در هر تحول پول هایی را که مردم به بانک ها پس انداز کرده و چنین محاسبه و معامله گیری صورت گیرد به این صورت اعتبار بانک نزد مردم ساقط میگردد. بناءً مشکلات مارا رئیس صاحب عمومی بانک ها و بخصوص رئیس صاحب دولت انتقالی اسلامی افغانستان در نظر گرفته در زمینه تصمیم عادلانه را اتخاذ و اگر خواسته باشند از مفاد آن ما هم صرف نظر کرده و آنقدر پول را که قبل از سال ۱۳۷۱ تحویل داشته ایم بدسترس ما قرار داده در غیر آن چنین تصمیم غیر عادلانه رئیس صاحب احدی که در صورت عدم مراجعه دارنده گان حسابات پس انداز، حساب شان مسدود میگردد غیر قانونی و مغایر شریعت اسلامی بوده و ناگزیر ما مجبوراً موضوع را از طریق ستره محکمه مطابق قانون شریعت به راه خواهیم انداخت.

وسلام

اعلان مفقودی

ذبیح الله تره خیل فرزند نیاز محمد تره خیل. که هفده سال عمر دارد از مدتی یکماه بدینسو از ساحه ده افغانان مفقود گردیده.

کسانی که از موصوف آدرس داشته باشند با نمره مبایل شماره ۰۷۰۲۲۵۳۰۵ با نجیب الله نام در تماس شوند.

اطلاعیه وزارت احیاء وانکشاف دهات

قرار است افرهای یک تعداد پروژه های آبرسانی، حفظ الصحه و تعلیمات نظافت برای کوچی ها ونقاط عامه در سطح ولایات پکتیا، ننگرهار، لغمان، هلمند، کندهار و نورستان از طرف ریاست آبرسانی حفظ الصحه وتعلیمات نظافت وزارت احیاء وانکشاف دهات از تاریخ ۴-۸ اگست مطابق ۱۴-۱۸ اسد ماه جاری توزیع میگردد.

بناءً از موسسات محترم غیر حکومتی وسکتورهای خصوصی که در عرصه سکتور های آبرسانی وحفظ الصحه محیطی فعالیت مینمایند تقاضا میگردد تا به روزهای معینه به ریاست آبرسانی، حفظ الصحه وتعلیمات نظافت واقع سرک (کابل - جلال آباد) جوار شرکت افسوتر مراجعه و آفرها را اخذ نمایند.

از همکاری های تان ابراز سپاسگزاری مینمائیم.

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد) خانه نمبر ۹۵
تیلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷

اراده
زیر نظر هیات تحریر انتشار مییابد
مؤسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب "دیدار"
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشرات افغان
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین: صدیق الله "صادق" وسبحان الله "داؤدزی"

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
eradadaily@hotmail.com
Deputy: Suhrab "Didar"
چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان قیمت یک شماره ۲ افغانی